درویش وردک

۱۷ مارچ ۲۰۱۶

## شلم مجلس(بی عمله وینا)

دجمعی په ورځ سهار، د ۵۴۵هجری قمری کال ذی القعدی په یوویشتمه شیخ عبدالقادر(رضی الله تعالی عنه) په مدرسه کی داسی وفرمایل:

تاسوای ددی ښاراوسیدونکو، هماغه نفاق ستاسو ترمنځ ډیررواج موندلی، اوپه اعمالو اوکړو کی مواخلاص لږشوی دی. پرته له کرداره گفتاردکوم ارزښت اواعتباردرلودونکی ندی، دادهغه پشان ده چی یو کس اراده وکړی ترڅویوکارترسره کړی، ولی پای ته یی ونه رسوی. پرته له عمل وینا، دهغه خونی پشان ده چی وراونوراړین توکی ونلری اویا دهغهی خزانی پشان ده چی تری گټه پورته نشی، اویا پرته له شاهده اومدرکه ادعا، اویا پرته له روحه وجود، اویا پرته له لاسواوپښوبت. داعمال روح هماغه اخلاص اوتوحید اوثبات اوپایداری دقرآن پراحکامو اودرسول اکرم صلی الله علیه وسلم د سنتوپه پیروی کی ده.

غفلت مه کوی، ځانونه بدل کړی ترڅو مقصود اوموخی ته ورسیږی، دخدای اوامرترسره کړی اوله منهیاتو لیری والی وکړی اوله مقدراتوسره جوړښت وکړی.

له خلکوځخه داسی کسان شته چی خپل زړونه دانس په زلال اوبه کوی، دقرب په مشاهده یی خوشحاله کوی، دقضا اوقدر رنځونه اوآلام نه احساسوی، اوتل دالهی قدس په درگاه کی شاکره اومننونکی وی، په ټولو حالاتوکی چی نیک وی یابد هیڅ اعتراض نلری اوهیڅکله خوله په شکوی اوشکایت نه خلاصوی، داسی کسان اندک دی، چی وجودونه یی له لوړ-حقیقت –څخه برخمن دی.

کړاونه اوبلاوی پرهرقوم نازلیږی، همدارنگه چی پرتاسونازلیږی. ولی دخلکو ترمنځ داسی کسان شته چی دصبراوشکیبایی درلودونکی وی اوځینی نوربیا،له هغی په تیښته اودصبرله مقامه بی خبره وی. دمصیبت پرمهال کمزوری ایمان دهغی ماشوم په څیردی چی دهرڅه پروړاندی بی تابی اوناآرامی ښئی.وله ځواکمن ایمان دهغی رشید اوبرومند ځوان په څیروی چی دهرستونزی پروړاندی پایداری(ټینگښت) کوی. دمقدراتوپروړاندی رضا اوتسلیم دپخوالی اوعقلی بلوغ نښه ده، چی شخص په علم اوآگاهی خدای وینی اودغوښتنو پروړاندی یی تسلیمیږی.

دآگاه زړه وجود په حق کی دفنا موجب گرځی، اوحق ته دباطن تسلیم دالهی عظمت اوجلال دمشاهدی حالت دی. دخدای مرد پدی حال کی له وجود اوباطن څخه په ټولیزه عاری(بی برخی) کیږی، اوځان دحق پروړاندی وینی. دحق دجمال په مشاهده کی له ځانه بیخوده اوویلی کیږی، اوکله چی دحق اراده فعلیت ته راشی، شلیدلی غړی یی راټولیږی، اوبیا خپل

حالت ته راګرځي، پداسې ډول چې دقیامت په ورځ دخلکوخپاره شوی غړی اووراسته شوی هډوکی سره راټول اوژوندی کوی، اواسرافیل علیه السّلام ته امرکیږی چې ارواحګانی پکی پو کړی. هغه ورځ حق اوثابته ده. ولی دخدای دلای مردان چې په دنیا کی دقرب مقام ته رسیدلی، اوچې دحق دعظمت اوجلال په مشاهده خپریږی، پرته له واسطی لومړی حالت ته راګرځی، په یوه نظرنابود اوپه بل نظر هست کیږی.

ددوستی اومحبت حق دادی چې دخپل دوست اومحبوب پروړاندی له ځانه هیڅ اراده اواختیارونلری، اوپرته ددوست دمهر، ددنیا دژوندانه په ظواهرو بوخت نشی. دخدای محبت یوه کوچنی خبره نده چې هرڅوک یی دعوه وکړی. ډیرو خلکو دا ادعادرلوده ولی له هغی لیری و. اوډیرو چې ادعایی نده کړی مقصود ته رسیدلی، دخدای له بندګاه هیڅوک ټیټ مه بولی اومه یی تحقیروی، ځکه دحق اسرار دټولو ترمنځ خپاره دی، څوک نه پوهیږی چې تحقیرشوی کس داسرارو څخه کومه برخه لری اوکه نه. فروتنه اوسی اوله تکبراوځان غوښتنی څخه پرهیزوکړی. دغفلت له خوبه راپاځی، ځکه تاسو په سترغفلت کی وینم، داسی چې تصورکوی چې چې محاسبه شوی یاست اوله پل صراطه هم تیرشوی یاست، اوخپل ځانونه م په جنت کی ترسترګوشوی، دافریفتګی اوروښانه غروردی.

له تاسوهریوه چې دخدای نافرمانی وکړه، اودهغی په هکله یی سوچ ونه واهه اوپه توبه یی لاس پوری نکړ، داسی انګیری چې ګواکی ګناهونه یی هیرشوی؟ نه خیر، هغه ټولی ستاسو داعمالو په نامه کی دټیکه نیتی سره ثبت شوی. ترمحاسبی اوپوښتنی لاندی به راشی اودهرواړه اولوی عمل پاداش اوجزابه درکول کیږی.

ای غافلانو ویښ شی، ای په خوب ویدو هوښیارشی، ځانونه دخدای رحمت ته وړاندی کړی. هرڅوک چې دګناه مرتکب شی اوپرادامه یی اصراروکړی اوتوبه یی ونکړه اونادم نشو، اودتدارک اوجبران پسی راونه وت، اویوازی یی دنیا پرته له آخرته اوپرته له خالقه یی خلک په نظرو، ډیرژربه دکفرقاصد اوپیک ورته راورسیږی.

یوه شی چې ستاسو ویره له فقر(غریبی) اوهیله موبداینه ده( یعنی داسی کسان چې هرڅه په سترګوکی لری ددنیا دشتمنی لړاوډیردی).

وای پرتا! حیرانی ده! روزی مقسومه اومقرره ده، نه کمیږی اونه ډیریږی، اونه تأخیراوتقدیم پیداکوی. ته له هغه څه شکایت لری چې خدای پاک یی تضمین کړی. په هغه څه چې ستا برخه نده هیله مند یی. ددنیا پرمال ستا داحرص اوآز، ته دعلم اوعلماو له مجالسو محروم کړی یی، ځکه ویریږی چې مشتریان دی به دی کم شی اوله سود اوربحی به دی کمی وشی.

وای پرتا! ته دموږپه غیرکی یوماشوم وی، آیا پوهیږی چاتاته خواړه درکول؟ او اوس دی پرخپل درهم اودینا، خرید اوفروش، اودښارپرواکمن تکیه کړی، ټول هغه څه چې پری باورلری اوله هرڅه چې ویره لری اویا دی امید پری ترلی، ستا دخدای په منزله دی. ټول هغه څه چې خپله ګټه اوزیان وریوری تړلی بولی اوله دی غافل یی چې خدای عزّوجلّ دهرڅه ترسره کوونکی دی، په حکم کی ستا خدایان دی.

ډیرژربه دخپلو اعمالو پایلی وګوری، تبارک وتعالی خدای به دی بینایی اوشنوائی اوثروت اوشته درڅخه واخلی، اوپه هرڅه چې داعتماد کړی له تاسلب کړی، ستااونورو ترمنځ به واټن ایجادکړی، اوزړونه به یی ستاپروړاندی سخت کړی، اوله کاراوشغله به دی لری کړی، ټولی دروازی به دی پرمخ وتړی، داسی چې تل به یوه دره وبل ته مخ اړوی، ولی هیڅوک به نه درته ګوله ډوډی درکړی، اونه به درسره یوه ذره محبت وکړی، اوکه له خدایه هم غوښتنه وکړی اجابت به نشی، داټول دمتعال خدای پروړاندی ستا دشرک اوپرمخلوق ستا داعتماد اوله خلکو دنعمتونو دغوښتنی اودخدای پروړاندی دعصیان ترسره کول دخلکو دخوشحالولو لپاره، ستا لمن به ونیسی. وینی چې ډیری خلک پردی ورځ ګرفتارشوی اواغلب له دونه هماغه ګناهکاران اوعاصیان دی. ولی ددوی له ډلی داسی کسان هم شته چې دخپلو

اعمالو ځخه پښیمانه اونادم دی اودریښتینی توبی پواسطه دحق خواته راګرځی، خدای پاک هم دوی ته درحمت په سترګه ګوری، اوپه خپل لطف اوکرم ددوی توبه منی.

ای خلکو ژرترژره توبه وباسی، ای علماو ای دین پوهانو، ای زاهدانو، ای عابدانو، پوه شی چی هیڅوک له تاسو له توبی بی نیازه ندی، ستا سو له خبرونو اوحالاتو ځخه خبریم، څه دژوند اوڅه دمرګ پروخت. هرکله که دستاسو دکارپه پیل کی له ستونزوسره مخ وم، ستاسو دمرګ پرمحال راته ځرګندیږی. که ستاسو دمال اوشتمنی اندازه ماته ناڅرګنده وی ،نودمصرف ځای ته یی ګورم، که دزن اوفرزند،فقراو دخلکو دخیرښیګڼی په لاره کی مصرف شی نو پوهیږم چی اصل یی دحلالو ځخه دی، اوکه دصدیقینو چی دحق دخواصوځخه دی په لاره کی مصرف شی، پوهیږم چی دغه مال پرخدای دتوکل په پایله کی لاس ته راغلی اومطلق حلال دی. زه ستاسوسره په بازارونو کی نه یم، ولی متعال خدای دحلالو اوحرامو دپیژندنی لاری راته ښوولی دی.

(ای دخدای بنده) وډارشه له دی نه چی متعال خدای ستا په زړه کی پرته له ځانه ووینی اوخواردی کړی. وډارشه چی په زړه کی غیرخدای، اوغیرخدای ته امید اویا مهرله غیرخدای سره ووینی. زړونه موپرته له خدایه له غیروتش کړی، سوداوزیان پرته له خدایه له بل ځخه مه غواړی. تاسو دخدای په خونه کی یاست اودده میلمانه یاست.

(ای دخدای بنده) هرڅه چی ددینا له ظاهری ښکلاڅخه ګوری اوپه هغی زړه تړی، پوه شه هغه نیمګړی اوستاځخه دبازخواست وړدی. ریښتینی مهرهغه دی چی دبدلون وړنوی، اوهغه یوازی دخدای حب دی، چی دباطن په سترګو لیدای شی. اودانوع خدای دوستی دصدیقینو اوعاملو علماو ده، چی په کامل یقین سره دخدای مینه کوی، اوپه پایله کی یی پردی دباطن له سترګولیری کیږی. دپردی .

لویه خدایه خپل محبت له عفوی اوعافیت سره زمونږ نصیب وګرځوی.

ستاسو روزی اودنیوی قسمتونه اوبرخی له خدای سره ودیعه دی، هرکله که دهغی دوصول اجازه درته ورسیږی نوهیڅوک هم پردی قادرندی چی هغه منع کړی اومخنیوی یی وکړی. باید پرهغه چا وخاندی اواحمق یی وبولی چی دمقسومی روزی په طلب اویایی دتحویل زمان نوی رسیدلای ، بیهوده زیارباسی اولالهانده وی.

(ای قومه) ددنیاله بابه مخ واړوی اودحق درګاه ته مخ راوړی، نوهغه وخت به دنیاستاپیرو اوتابع وګرځی. له خدی عزّوجلّ ځخه وغواړی دعقل نعمت درته ارزانی کړی.

هرکله که دنیا اولیاءالله (رحمت الله علیهم اجمعین) ته مخ راواړوی، هغی ته وایی ځه اوبل چاته فریب اودوکه ورکړه، مونږته لیدلی یی اوپیژنودی، مونږه مه آزماییت کوه، ستامخ مولیدلی، خپله ښکله مونږته مه ښکاره کوه، ځکه ستا ښکلاوی دهغی وچ اومنځ تشی بت پشان دی چی له محتوی خالی وی، له روحه پرته جسم.

ته پرته له معنی ظاهرلری، دلیدو رخسارنلری، ریښتینی اودلیدووړ ښکلا دآخرت ده. هرکله که ددنیا بدی دوی ته ښکاره شی تری تښتی. بیابانونو، دښتو، خرابه و، اوغارونو ته پناه وړی اوله دغسی ځایونو سره انس اخلی. له فرشتو اوغیبی موجوداتوسره اړیکی ټینګوی.

صادق مرید دارادت په مقام کی دکارپه پیل کی، دخلکو له لیدو اوددوی دویناو داوریدو، اوددنیا دظواهردیوی ذری دلیدوځخه اکراه کوی. نشی کولای چی څه ووینی، زړه یی پریشانه اوعقل یی غائبه اوسترګی یی تیاره دی، ترڅوچی دحق درحمت لاس یی پرسرراکش شی، اوسکون اوباطنی آرامش ته ورسیږی. تل دمستانو په څیردی، ترڅوچی دانس بوی یی ترسپوږموشی اوهوښیارشی. اوچی توحید، اخلاص اودحق معرفت یی په زړه کی ځای ونیو، دخلکو داموراتو پروړاندی ثبات اوپراخی ورته حاصلیږی، الهی توانبخش ځواک ورته راځی، اودی دخلکو پرتولو ستونزو اومعضلاتو

دتحمل لپاره توانا اوځواکمن کوی. خلکو ته نیږدی کیږی اوټول همت یی یوازی ددوی لارښوونه وی، پداسی حال کی چی یوه لحظه هم دحق دیاد څخه غافله نه وی.

مبتدی زاهد له خلکو گریزانه وی، اما کامل زاهد له خلکو نه تښتی اودوی ځانته رابولی، ځکه چی کامله الهی معرفت یی ترلاسه کړی، نوځکه له خلکوسره دنیږدی والی اومصاحبت څخه نه ویریږی. هرچاچی خدای په ریښتینی وپیژانده نه له څه ویریږی اونه تیښته کوی، اونه له چاڅخه ډارکوی. مبتدی له فاسقانو اونافرمانانو تښتی، ولی کمال ته رسیدلی هغوی رابولی، ځکه پوهیږی چی د ناروغیو دوایی له دوی سره ده، نوځکه یوه له دوی(دخدای رحمت دی پری وی) په دی هکله فرمایلی: پرته له ریښتینی عارفه، څوی دفاسقانو پروړاندی لبخند نه وهی.

دهرچاچی پیژندگلوی دحق په نسبت بشپړه شوه، دهغی لومی په ډول کیږی چی خلک ددنیا له دریابه ښکارکوی، اوداسی ځواک ورته ورکول کیږی چی شیطان اولښکریی ماتی، اوخلک ددوی له لاسه وژغوری.

ای هغه چاچی په جاهلانه عزلت(گوشه نشینی) لاس پوری کړی، راشه اوزما خبروته غوږونیسه، ای دځمکی دمخ زاهدانو، مخکی راشی اوخپلی صومعی ورانی کړی، ماته رانیږدی شی. تاسو خلوت غوره کړی، ولی پرته له اغیزی اوگټی. راشی اودحکمت اواندرز میوه وڅکی. خدای دتاسو وبښی. دځان لپاره تاسو نه رانیږدی کوم، بلکی ستاسو مصلحت پکی وینم.

(ای دخدای بنده) دیوه صنعت اوهنر دزده کړی لپاره باید درنځونو اوستونزوزغم ولری، نوباید دهغی نه ماتیدونکی روحانی کلا دجوړولو لپاره باید زرځله زغم اوتحمل ولری. اوکله چی دروحانی کلا په ساخت اوساز اوورانولو کی فانی شوی، نو خدای عزّ وجلّ به داسی کلادرته جوړه کړی چی هیڅ ویرانی اوخرابی ونلری.

(ای قومه) کله به دعقل څراغ دخپلی لاری کی روښانه کوی؟ کله به هغه کس چی دحق خواته روان دی، درک کوی؟ دحق دلاری دمریدانو په لټه کی اوسی، هرکله که موهغوی وموندل نوپه ځان اوزړه یی خدمت ته ملاوتړی،دحق مریدان ظاهری نښانونه اودلنوازه بویونه لری، څیری یی روښانه وی، ولی دنه پیژندنی ناروغی ستاسو دفهم اوادراک سترگی نیولی، چی نشی کولای دصدیق اوزندیق، ترمنځ توپیرقایل شی. تاسی نشی توانیدلای چی دحلالو اوحرامو، سمی اوغیرسمی، مشرک اوموحد، عاصی اومطیع ، دحق دمرید اودخلق دمرید ، ترمنځ توپیر وپیژنی.

هغه بزرگان چی په په خپل علم عامل وی، خدمت یی وکړی، ترڅوچی مسایل اوقضایاوی څرنگه چی هغوی دی، دروپیژنی. دالهی اقدس ذات په پیژندنه کی زیاروگالی، هغه وپیژنی اومینه یی وکړی. که قادرنه یاست چی خدای په ظاهری سترگووگوری، نودباطن په سترگو هغه وگوری. هرکله که خدایی نعمتونه په نظرکی ولری، دضرورت په خاطر هغی ته علاقه ولری، پیغمبراکرم(صلی الله علیه وسلم) فرمایلی: (اَحَبُّوا اللهَ يُغْذِيْكُمْ مِنْ نِعَمِهِ، وَاَحِبُّونِى بِحُبِّ اللهِ عَزَّوَجَلَّ لِىْ)-«له دی کبله خدای گران وگڼی چی تاسو یی دخپلو نعمتونو څخه بهره مند کړی یاست، اوما هم زماسره دخدای دعنایت په سبب مینه وکړی».

(ای قومه) هغه ورځ موپه یادراوړی چی دموړپه نس کی وی، اوخدای تاسوته له خپلو نعمتونو څخه خواړه درکول. اودموردنس څخه تررابهرکیدو وروسته یی درته ځواک اوتوان دروباښه، اودطاعت روزی یی ستاسو نصیب وگرځوله، ترڅویی دگران رسول(صلی الله علیه وسلم) له پیروانوڅخه وگرځولی، درسول دوستی اوسپاس دخدای سپاس اودوستی ده.

هرکله که دنعمتونو حصول موله خدایه وگانه، دخلکو دعطا دوستی به موله زړونو ووزی.

دخدای عارف، خدای دباطن په سترگووینی، اوټولی نیکی اوناخوښی له لوری بولی. نوری سترگی نه ورته پاتی کیږی چی دنورو نیکی اوبدی نورو ته نسبت ورکړی. هرنیک اوبدچی له خلکو ووینی، هغه ټول دخدای ځواک اوغوښتنی ته

محول کوی. لیرلید(دیدگاه) له خلکوخالق ته لیږد کوی. دشرعی حدود اوحقوق په ټوله سره ترسره کوی، دشریعت یو وړوکی حکم هم نه ضایع کوی، دعارف پام دم په دم له خلکو نه دخالق لورته اړول کیږی، ترڅوچی کاملا له خلکو سره پریکړون اوله خالق سره پیوند کیږی.اوپرده متوکل کیږی.

دخلکو عطا اوبخشش منتفی کوی، اوهرڅه چی دهرچا له لوری ورته ورسیږی ، دحق دعنایت له لوری یی گڼی. عقل اواراده یی استواره کیږی اودکامل عقل په نعمت سره دخدای له لوری نائل کیږی.

ای چاچی ځان دخلکو پروړاندی فقیر بولی، اوخلک له خدای سره شریک کوی، له هغی ورځی وډارشه چی مرگ به درپسی راشی اوته به هم په هماغه حالت کی پاتی شی، خدای عزّ وجلّ دخپل رحمت دروازی دهغوپروړاندی چی پدی حال کی وی نه پرانیزی، ځکه پرهغوبندگانو چی په خلکو تکیه کوی په غوصه دی.

پرتاالازمه ده چی لومړی دی له خپله نفسه څخه تجرد پیداکړی، وروسته له خلکو،بیا له دنیا اوبالاخره له آخرته هم، هغه وخت لیری والی له هرڅه، پرته دحق داقدس ذاته. که دمولا دقرب غوښتونکی یی، باید له ځانه،له فکرونو اوسوچونو، اوله پریشانه ویناوو لیری والی وکړی.

وای پرتا! په خپله عبادتگاه کی ناست یی، اما زړه دی دخلکو په کورونو اوسترگی دی ددوی بخشش اوبذل ته دی! خپل ورځ دی تباه کړی اوله معنی اومحتوی تش صورت ته ورته یی.

له هغه څه سره چی خدای ستالپاره نده ښایسته کړی، انس مه نیسه، ځکه که خدای دهغی اهلیت درته اعطا نکړی، نه ته اونه کوم بل کس پدی نتوانیږی چی هغی ته لاس رسی پیداکړی. که خدای هرکله دیوه کاراراده وفرمایی هغه به درته آسانه کړی.

ترڅوچی دی زړه بینا، اوزړه دله غیرو تش نشی، خلوت اویوازیتوب درته گټه نه رسوی.

خدایه ماپه هغه څه چی وایم بهرمند وگرځوه، اونورپه هغه څه چی وایم اودوی یی اوری بریالی وفرمایه! آمین.

**«ربنا آتنا فی الدنیا حسنه وفی الاخره حسنه وقنا عذاب النار».**